انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۰٤/۲٦

# آیا د ثور کودتا د سرطان د کودتاسره اړیکه لرې؟

دشلو نه زیات کلونه کیږي چې په هیواد کی د ننه او له هیواده بهر په دی برخه کی چې د ثور کودتا د سرطان د کودتا سره تړاو



لری او که نه ؟ د ډیرو پخو او پیاوړو لیکوالانو او محقیقینو له لوری، ډیر لیکنې زما له نظره تیری شویدی، ځنې په دی باور دی چې د ثور کودتا د سرطان د کودتا زیږنده ده. ځنی بیا داسی نظر لری چی دا دواړه یوه د بلي سره هیڅ تړاو نه لری، د سرطان د ۲٦ کودتا د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او د جمهوری نظام د مؤسس سردار محمد داؤد خان ترمنځ یو پټ سازش او مصلحت بولي. خو د ځینو پوهانو او محقیقینو له نظره د سرطان د ۲٦ نیتی کودتا یو ملی پاڅون او د بی عدالتیو خاتمه بلله کیږی او د ثور کودتا چی تر هغی پنځه کاله وروسته را منځ ته شوه او د یوه یوګوندیز دولت پر ځای یی یو بل یو ګوندیز دولت د ډیرو وینو تویدلو سره یوځای را منځ ته کړ د سرطان د کودتا محصول نه بلکی د اعلیحضرت ظاهرشاه د دولت د دیموکراسی د دورې محصول بولي؟؟ زه غواړم دلته په لنډه توګه په دی دری واړو استدلالونو باندی تر کومه ځایه چی راته ممکنه وی خبری وکړم.

۱ــ لومړی نظریه داسی ده چی د ثور د اومی ورځی کودتا د سرطان د شپږویشتمی نیټي د کودتا زیږنده او سکه لور ده. دا ډله محقیقین او څیړونکی د خپل نظر د اثبات د پاره داسی دلایل وړاندی کوی:

ــ سردار محمد داؤد په ۱۹۵۳ کال کی د خپل تره شاه محمود خان پرځای د پاچا محمد ظاهر شاه له خوا د هیواد د صدراعظم په توګه و ټاکل شو. داؤدخان د ۱۹۳۳ کال راهیسی د محمد ظاهرشاه په سلطنت کی یو کلیدی شخص و او تر اعلیحضرت امان الله خان وروسته دویمه پیژندل شوی څیره وه چی د هیواد د پر مختګ او عصری کیدو خیال یی لاره. د ده اړیکې د وخت د شوروی اتحاد سره ډیرې نژدې او صمیمي وې، دی لومړنی شخص وو چی د لومړی ځل د پاره یی په ۱۹۵۵ کال کی د شورو‌ي ګوندی او حکومتی مشران خروسچوف او بولګانین کابل ته را وبلل او هغوی افغانستان ته د نورو ډیرو کومکونو تر څنګ د سل میلیونو ډالرو پور په ډیرو ښو شرایطو سره هم ومانه. دی معاملی داؤد خان شوروی اتحاد ته ډیر ورنژدی کړ او د هیواد د پنځه کلن انکشافی پلان د تطبیق دپاره یی د افغان حکومت ملا ور وتړله. د داؤد خان د حکومت سره د شوروی اتحاد دی مرستو تر ډیره حده افغان دولت د امریکا د متحده ایا لاتو د مرستو نه چی لا پخوا یی د آیزنهاور له واکمنی څخه بیا د ریچارد نکسن د واکمنی تر دوری پوری تولو امریکایی حکومتونو د وسلو د رانیولو او د نورو پر مختیا یی کارونو د پاره د مرستو د ورکول په دی پوری اړوند بلل، چی د «سیټو» او « سینټو» په تړونونو کی (سیمه ییز تړونونه ول چی د شوروی اتحاد پر ضد یی د دی دولت په جنوب کی د پر مختګ مخنیوی کاوه) د نورو ګاونډیو غوندی شامل شی بی نیازه کړ. افغانستان چی د نابیلتوب سیاسی لاره یی تعقیبوله او نه یی غوښتل چی خپل ستر شمالی ګاوندی زبر ځواک په خپل ضد را و لمسوی، دا امریکا د دولت دا ډول غوښتني نه شوی منلی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ـ شوروی اتحاد هم د افغانستان سره د دی نژدیوالی نه ډیره ستره ګټه او چته کړه او په اوږده واټن کی یی له همدی لاری څخه تودو اوبو ته د څان رسولو تیر خیالات چی د تزار له وخته بی نتیجی پاتی او نژدی د نا بودی په حالت کی وو، بیا را ژوندی کړل.

ـ شوروی اتحاد د افغانستان د را خپلولو د پاره ډیری لوی او وړی پروژی د لاس لاندی ونیوی، بی شمیره متخصیصین یی په دی مصروف کړل چی خپلو هدفونو ته د رسیدو د پاره ټولی هغه لاری چاری و لټوی چی د ساړه جنګ په وخت کی د نړیوالو حساسیتونوله را پاریدو پرته و کولی شی چی د افغان دولت په راتلونکی جوړښت کی ستره برخه ولری. احمد فرهاد ویچ چی د ډاکتر نجیب الله د حکومت په دوهمه نیما یی کی د کانو او جیالوجی په اداره کی مسلکی مشا ور او د آذربایجان او سیدونکی ؤ یوه ورځ ماته و ویل چی «د ماسکو ټول پلانونه چی د افغانستان په هکله یی لرل ډیر بریالي پر مخ روان ول، یواځنی شی چی نه یی د جاسوسی سازمانونه پری و پوهیدل او نه یی نورو مسلکي مشاورینو په دی هکله شوروی زعامت ته څه وړاندی کړلی شو داو چی: دوی ټولو، افغانان د منځنی اسیا د نورو ملتونو سره توپیر او تمیز نه شو کړلی، افغانان یی هم هغوی ته ورته وبلل او څو تنه افغان جاسوسان یی د ټول افغان ملت د پیژندني د پاره مشت نمونه خروار و ګڼل چی نتیجه یی اوس ورو ورو ورته معلومیږی.»

په رښتیا هم د شوروی اتحاد سره د یوځی مداخلی نه د مخه افغانانو په مجموع کی نه یوځی داچی حساسیت یی نه درلود بلکی د هغوی ټولو پر مختیا یی کارونو ته یی د قدر په سترګه کتل. د سردار داؤدخان د صدارت په دوره کی او تر هغه راوروسته د دموکراسی په دوره کی د محمدموسی شفیق تر صدارته پوری په زرګونو افغانی محصلین په ملکی او نظامی دواړو برخو کی شوروی اتحاد او د سوسیالستی بلاک نورو هیوادونو ته دلوړو زده کړو د پاره و لاړل آن تر دی حده په دی هیوادونو کی زده کړی مهمی وی چی سردار محمد داؤد خان هم خپل زامن خالد او میرویس دواړه د لوړو زده کړو د پاره شوروی اتحاد ته ولیږل او تر فراغت وروسته دواړه د کابل د پولتخنیک په پوهنځی کی چی د شوروی اتحاد په مالی او علمی مرستو جوړ شوی و، د استادانو په توګه مصروف وو.

ـ د سردار محمد داؤد د صدارت په موده کی شوروی اتحاد له هره اړخه د افغانستان سره ډیر نږدی شو، شوروی زعامت داؤدخان د افغان ـ شوروي د اړیکو د مهندس په نوم یاد کړ او هغه یی هسی څوک وباله چی معامله ورسره کیدای شی. (سیاسي کمزوري او بهرنی مداخله. ۱۸۸ مخ ، نبي مصداق). شوروی له دی کبله چی پاچا محمد ظاهر هڅه کوله، چی د خپل وروستي صدر اعظم محمد موسی شفیق په ذریعه افغانستان د شوروی د اغیزی له ساحي څخه لیري کړي . د ایران سره د هیلمند د دریاب په سر د اوبو د معضلی ختمول، د پاکستان سره د ډیورنډ د کرښی په ذریعه د پښتونستان د معضلی د رامنځ ته کیدو د حل د پاره د یوی مناسبی لاری د میندلو هلی ځلی، د مرستو د یوی منبع په توګه اسلامی هیوادو ته د صدراعظم شفیق ور نژدی کیدل، په حکومتی لوړو مقامونو کی د اسلامی ډلو د یو شمیر مشرانو د ځای پرځای کولو د پاره د پاچا سره د هغه مشوری او ځنی نور لوی او واړه اقدا مات د دی لامل شول چی شوروی اتحاد په خپل څنګ کی د افغانستان د ساتني د پاره لاس په کار شي. د شوروی هیواد په دی پوهیده چی په خپل جنوبی سر حد کی دری اسلامي هیوادونه (ترکیه د ناتو غړي هیواد، ایران یو کمونست ضد او امریکا یی پلوه هیواد او پاکستان د چین او لویدیز پلوی هیواد) لری، نو هیڅکله دی ته تیار نه وو چی افغانستان هم د یو بل اسلامی هیواد په توګه د دوی په جنوبی سرحد کی په داسی حال کی چی په ملکی او نظامی ساحو کی یی ورسره د ملیاردونو ډالرو په ارزښت مرستی کړیدی، د دوی د ګټو پرضد سر راپورته کړی. داخبره خو ټول افغان ولس ته په پوره توګه روښانه ده چی هغه محصلین چی په شوروی اتحاد او یا نورو سوسیالیستي هیوادونو کی زده کړی وی، که د ګوتو په شمیر داسی کسان بیرته خپل هیواد ته را ستانه شوی وی چی کمونیستی افکارو پری تاثیر نه وی کړی، په مجموع کی ټول بیرته را ګرځیدلی محصلین په بیلو بیلو سطحو د تاثیر لاندی راغلي حتی په لسګونو یی د کی جی بی او یا نورو سازمانونو کی په جاسوسی هم لګیا شویدی. شوروی مقاماتو د خپلی پخوانی تجربی نه په ګټي اخستنی د نظامی برخی په محصلینو ډیر کار کړی و او د دی ځوانو محصلینو ډیره لویه برخه یی په نظامی ځانګړو استخباراتی او جاسوسي سازمانونو کی تنظیم کړي ول.

عبدالقدوس لودین په یوه تحقیقی اثرکی چی نوم یی دی (افغانستان جولانګاه افراطـګرائي. چاپ شهر تورنتو، می ۲۰۱۲) لیکی : « د شپیتمی کلیزی په اوږدو کی د اردو د سیاسی کیدو پروسه ګړندی شوه. ... د ۱۹۶۴ د سپتمبر د میاشتی په ۱۳ نیټه د افغانستان په وسله وال پوځ کی یو پټ انقلابی سازمان د شوروی اتحاد د نظامي استخباراتو (جی آر یو) د اداری له خوا چی هدف یی د سلطنت را پرځول اود پانګه والی دوری تر تیریدو پرته سوسیالیزم ته رسیدل و، جوړ شو.... د دی سازمان غړو د ۱۹۷۰ کلونو په شا وخواکی د سردار محمد داؤد سره اړیکی ونیوی او د ۱۹۷۳ کال د جولای په میاشت کی د نظامی کود تا له لاری شاهی نظام ړنګ او د جمهوری نظام یی را منځ ته کړ....په دی کودتا کی شامل افسران د خلک دموکرتیک ګوند (خلق او پرچم) غړی او یا پلویان ول، دوی غوښتل چی د داؤد خان په مرسته شاهی نظام ړنګ او قدرت پخه خپل لاس کي وساتي.......برخلاف داؤدخان داسی فکر کاوه چی اوس د دوی موقتی ملتیا ته ضرورت لری او په لازم وخت کی به یی له ځانه لیری کړی.» (د همدی اثر ۵۰ او ۵۱ مخونه). همدارنګه عبالقدوس لودین په همدی اثر کی د ځینو کارپوهانو له قوله لیکی چی « ډاکتر شرق د داؤدخان نژدی همکار و چی د ۱۳۵۲ د سرطان د ۲۶ می نیټی په کودتا کی مهمه ونډه درلوده، د کودتا نه د مخه د تداوی په نوم د وخت د چکوسلواکیا هیواد ته ولاړ، په لار کی یی د مسکو نه هم لیدنه وکړه، نوموړی په دی سفر کی په مسکو کی د یو شمیر هغو کسانو سره چی موضوع ور پوری اړه درلوده د کودتا خبره شریکه کړه ، داچی اتحاد شوروی او افغانی کمونستان لا پخوا د محمد موسی شفیق له کړو وړو څخه پریشانه ول، د کود تا سره یی موافقه وکړه او له هغی څخه یی د ملاتړ د څرګندونی ډاډ ورکړ» . همدارنګه قدوس لودین زیاتوی چی « د ډاکتر شرق سفر شوروی اتحاد ته د داؤدخان په اجازه تر سره شوی و، ځکه داؤد خان سره له دی چی د ملی غرور لرونکی و، یو پوخ سیاست مدار هم و، هغه په دی پوهیده چی د شوروی اتحاد له موافقی پرته د کودتا د بریالی کیدو امکانات کم دی او که شوروی و غواړی نو د هغه نفوذ له مخی چی د افغانستان په اردو کیی لری، کولای شي چی د کودتا مخنیوی وکړی او یا هغه ناکامه کړي. همدا وجه وه چی د کودتا تر بری وروسته داؤد خان د دی د پاره چی شوروی اتحاد خوش کړی، ګڼ شمیر د ماسکو د لاری پیرو چپی عناصر عمدتاً پرچمیان یی په حساسو دولتی پوستونو کی په وظایفو و ګومارل.» د سردار صاحب په حکومت او کابینه کی دا چپي مقتدر عناصر، په لنډ وخت کی په دی وتوانیدل چی محمد هاشم میوندوال او ګڼ شمیر نور هغه ملکی او نظامی اشخاص چی دوی ورنه په ویره کی ول او د هغو موجودیت یی د ځان او خپلو راتلونکی پلانونو د تطبیق د پاره یوه ستره مانع ګڼله د کودتا په نوم په سردار داؤدخان باندی له منځه یوړل او زیار یی و وویست چی داؤد خان ورو ورو یواځی او په خپله محاصره کی را ولی، او که اړتیا ولیدله شی چی په اسانی سره یی له منځه یوړلي شي. چی بلاخره همدا کار یی وکړ اود ثور په خونړی بدلون سره یی د خپلو بادارانو، تودو اوبوته د رسیدلو د پلان لومړی برخی ته تحقق ورکړ، او ورسره سم یی، د سر سختو حریفانو په توګه په اسلامی ډلو ټپلو هم ګزارونه وکړل، څوک یی و وژل ، څوک یی بندیان کړل او څوک یی له ملکه و شړل.

ــ که په د قیقه توګه د سردار محمد داؤدخان د جمهوریت لومړی څلور کلونه را و څیړل شی نو هغه داسی تیر شول چی په ښکاره توګه د شوروی اتحاد دولت د سردار داؤد خان د جمهوری نظام په وړاندی کوم داسی اقدام نه دی کړی چی هغه دی د داؤد خان په ضد د بلی کودتا پیلامه وګڼل شی، خوکله چی سردار داؤد خان په ۱۹۷۷ کال د اپریل په میاشت کی شوروی اتحاد ته سفر وکړ او د دواړو دولتونو مشرانو تر منځ د خبرو په جریان کی څه داسی فضاء رامنځ ته شوه چی دوستانه اړیکو ته یی بدلون ورکړ، نو داسی معلومیږی چی هم جمهور رئیس محمد داؤدخان په دی فکر کی شو چی د شوروی اتحاد د مرستو او همکاری په ځای د نورو کومکی منا بعو په لټه کی شی او هم د شوروی اتحاد مشرتوب په دی فکر کی شو چی سردار داؤدخان باید له صحنی نه لیری کړای شی.

ــ جمهور رئیس محمد داؤد چی کله د شوروی اتحاد نه بیرته افغانستان ته را ستون شو نو په یو لړ هسی اقداماتو یی لاس پوری کړ چی نه د شوروی د هیواد په مزاج برابروو او نه هم د ده د کودتا چپانو شوروی پلوه ملګرو په مزاج. د شوروی د سفر نه تر راستنیدو وروسته یی صدراعظم محمد موسی شفیق له زندانه را خوشی کړ او په قرغه کی د نوراحمد اعتمادی په کور ورته د اوسیدلو بندو بس ونیوه. داسی اوازی هم خپری شوی چی داؤدخان د موسی شفیق سره د هغه د صدارت د دوری د ځینو

پروژو په هکله مشوری هم کولی لکه د ایران او پاکستان سره د اړیکو د ښه کیدو، د عربی هیوادونو څخه د مرستو د جلبولو او په دولتي تشکیلاتو کی د تغیر را وستلو او ځنی نورو په هکله. همدارنګه د پرچم د ډلې ډیر د لوړو رتبو کار کونکی یی له وظیفو نه لری کړل او غوښتل یی ځان د دوی له شره د تل لپاره خلاص کړی.

ـ داؤد خان داسی فکرکاوه چی د هغه دولت په داخل کی دضرورت وړ مضبوطتیا لری او یواځنی شی چی د ده هیواد ورته اړتیا لری هغه اقتصادی او تخنیکی مرستی دی چی باید له خارج ملکو نه تر دلاسه شي.د همدی لازمو مرستو د ترلاسه کولو د پاره جمهور رئیس محمد داؤد د لیبیا،یوګوسلاویا،هندوستان، پاکستان، کویټ سعودی عربستان اود مصر هیوادونو ته سفرونه وکړل او کله چی یی له دی هیوادونو څخه د اوه کلن اقتصادی پلان د تطبیق په منظور د مرستو غوښتنه وکړه د هر هیواد د مثبت ځواب سره مخ شو. داؤد خان د دی دپاره چی د خپل هیواد په پوځ کی د شوروی اتحاد نفوذ را کم کاندی نو د نظامی لوړو زده کړو د هغو افسرانو په شمیر کی یی زیاتوالي را وست چی د هند، مصر او متحده ایالاتو هیوادونو ته هرکال د زده کړو د پاره لیږل کیدل. د متحده ایالاتو جمهور رئیس جیمی کارتر چی د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړیکو د ښه کیدو نه یی اطلاع تر لاسه کړی وه د جمهور رئیس محمد داؤد نه یی غوښتنه وکړه چی د متحده ایالاتو نه لیدنه وکړی، داؤد خان چی د همداسی یوه مسافرت غوښتونکی و او داسی انګیرل کیدله چی متحده ایالات به د افغانستان بی طرفی ته په احترام لرلو سره سره مرستی وکړی. فیصله داسی وشوه چی دا سفربه د ۱۹۷۸ کال د سپتمبر په میاشت کی هغه وخت صورت ونیسی، کله چی جمهور رئیس محمد داؤد د ملګرو ملتو په عمومي اسامبله کی د خبری کولو د پاره نیویارک ته ولاړ شی. داؤد خان چی پخوایی ایران ته سفر کړی و او هلته د بیساری هرکلی سره مخامخ شوی و، د ۱۹۷۷ په وروستیو کی یی د ایران پاچا ته بلنه ورکړه چی د ۱۹۷۸ کال د جولای په میاشت کی د کابل نه لیدنه وکړي، دا بلنه په داسی وخت کی و شوه چی د دواړو هیوادو تر منځ د هیلمند د اوبو د ویش په سر د یواځنی اختلاف د حل اسناد داؤد خان هم لاس لیک کړی او تبادله شوی ول او د ایران د پاچا په منځګړیتوب د داؤد او د پاکستان د صدراعظم ذوالفقار علی بوټو تر منځ د مستقیمو خبرو زمینه هم برابره شوی وه او خبر تر ډیره حده په سمه توګه پر مختللي وې.

ـ که په لنډه توګه د هغو محقیقینو او څیرونکو نظر یات چی د ۱۳۵۷ کال د ثور د اومي نیټي خونړی کودتا د ۱۳۵۲ کال د سرطان د ۲۶ نیټي د سپیني کودتا محصول ګڼي سره را ټول کړو نو وینو چی په پنځو کلونو کی د تاریخ پاڼه بیا تکراریږی او د شوروی اتحاد دولت لکه څنګه چی د محمدظاهر شاه د شاهی دولت د سقوط سره د صدر اعظم محمد موسی شفیق دهغو هلو ځلو له امله چی نتیجه یی د شوروی اتحاد له منګولو څخه د افغانستان را ایستل وو، موافقه کړی وه، به همدی توګه یی یو ځل بیا د ثور د اومي نیټي د کودتا د پاره نوی هلی ځلی را پیل کړي او په څرګنده توګه یی په کابل کی د خپل سفارت له لاری د افغانستان د خلکو د دیموکرتیک ګوند د دواړو څنډو(خلقیانو او پرچمیانو) د مشرانو سره اړیکی ټینګی کړی او په دی توګه یی د سردار محمد داؤد خان د جمهوری نظام د را پرځولو د پاره عملي کار پیل کړ. شوروی دولت په دی و پوهیده، نه شی کولی چی خپلو هغو هدفونو ته چی دوی ورته رسیدل غوښتل، د داؤد خان په وجود کی ورسیږی، ځکه لکه څنګه چی صدر اعظم موسی شفیق غوښتل چی افغانستان د شوروی له منګولو نه وکاږی په هماغه توګه جمهور رئیس محمد داؤدخان هم په ورته توګه د شوروی څخه د لیری والی او نوری دنیا ته د ورنژدی کیدو هلی ځلی ګړندی کړیدی، خو شوروی اتحاد د سردار داؤدخان دا ډول پریکړه په سیمه کی د ځان په تاوان ګڼله نو تر ټولو د مخه یی د دیموکراتیک ګوند په دواړو څنډو فشار راوړ چی خپل اختلافات شاته و غورځوی او سره متحد شی. د دی کار د پاره د هند کمونست ګوند او د عراق کمونست ګوند ته وظیفه ورکړه چی دا وحدت تامین کړی. ځنی څیرونکی په دی باور دی چی د شوروی اتحاد دولت د برژنف او داؤد له لفظی شخړی نه لا دمخه د خلق او پرچم د یووالي هلي ځلي پیل کړی وی، خو د دی دوه رهبرانو د لفظي شخړی نه وروسته دا هلي ځلي ځکه ګړندۍ شوی چی د محمد داؤد خان حرکت له دی برخورد نه وروسته ښی لوری ته ګړندي شوی و، او د شوروی اتحاد دولتي زعامت په دی ویره کی و چی که ژر تر ژر لاس په کار نه شي او داؤد خان له صحنی و نه باسی نو بیا به پری نا وخته شوی وی او وروسته به د اقدام کول ورته ډیر ګران تمام شی.

پخوا له دی چی سردار داؤد په دی بریالی شی چی دهغو هیوادونو نه مرستی تر لاسه کړی چی د مرستو ژمنه یی ورسره کړی وه، مخکی له دی چی د ایران پاچآ افغانستان ته راشی، مخکی له دی چی د پاکستان او افغانستان تر منځ د پښتونستان د مسلی روانی خبری نتیجی ته ورسیږی او پخوا تر دی چی داؤدخان امریکا ته سفر وکړی او یا ځنی نور مؤثر اقدامات تر سره کړی، شوروی اتحاد د خلق او پرچم ډلی سره په میخانیکی توګه یوځای کړی او د داؤد خان د رانسکورولو پلان یی جوړ کړ. د دی پلان د تطبیق د پاره یوی بهانی ته اړتیا وه چی داؤدخان دی ته مجبورکړی چی داسی عمل تر سره کړی چی دوی دهغه په مقابل کی د ده د نسکورولو قومانده د عکس العمل په توګه صادره کړای شی.د کی جی بی د مامورینو په مرسته یی د پرچم د ډلي دوهم مشر میراکبر خیبر و واژه، د خلق دموکراتیک ګوند دواړه خواوی یی د هغه په مړی راټولي کړی، د دواړو ډلو مشرانو اونورو ګوندي لوړ رتبه غړو دهغه په قبر سختی ویناوی وکړی او د هغه د وینو د انتقام اخستلو خبر یی د کابل ښار یانو ته ورواوریده. د دی پیښي سره سم سردار داؤدخان د خلق دیموکرتیک ګوند ډیرئ مشران د غیر قانونی مظاهری کولو او دولت ته د اخطار ورکولو په جرم په سرسری توګه بندیان کړل. د سردار صاحب د دی عمل سره سم د شوروی دولت په کابل کی د خپل سفارت او د جی آر یو د سازمان په ذریعه په  افغان اردو کی د مخفی انقلابی سازمان غړو ته چی په سر کی یی د هوایی قواو قوماندان ډګروال قادر، جګړن فیض محمد، جګړن محمد اسلم وطنجار، جګړن محمد عمر، شیرجان مزدوریار، سید محمد ګلابزوی او نورو ته چی د داؤدخان په کودتا کی یی هم پراخه ونډه درلوده، د نظامی پاڅون قوماندہ صادره کړه او د پان شنبی د ورځي په سهار یی چی د ثور د میاشتي اومه نیټه وه خپل عملیات پیل او تر ډیرو وینو تویدلو وروسته یی په داسی حال کی چی جمهور رئیس محمد داؤد خان هم د ټولی کورنی سره یکی په شهادت ورسیدل، د شوروی د پلان سره سم دا نظامی پاڅون بری ته ورسیده او په دی توګه د جمهوریت پنځه کاله چی د شاهی نظام سره یی د افغانستان خلکوته څه تفاوت نه درلود، د ثور د اومی نیټی په کودتا سره پای ته ورسیده او د آل یحی د کورنی تسلط ته یی د پای ټکی کیښود.

هغه محقیقین چی د ثور اومه د سرطان د ۲۶ مي، د ثور اتمه د ثور د اومي، د طالبانو ظهور د ثور د اتمي، افغانستان ته د امریکا په مشرئ د ناتو د پوځیانو راتګ، د طالبانو د بی بندو باره حاکمیت او د بن د توافقاتو د رامنځ ته کیدو او بلاخره ننئ دوه سره زعامت د حامد کرځی د خان خانی د رژیم زیږنده بولی، نو د سرطان د ۲۶ مي کودتا د د یموکراسی د لسیزی محصول بولي او د ثور د اومي کودتا د سرطان د ۲۶ می کودتا محصول او زیږنده کني.

۲ ـ دوهمه ډله هغه محقیقین او څیرونکی دی چی د سرطان د ۲۶ می نیټي کودتا او د ثور د اومی نیټي کودتا دوه ځانګړی حادثي بولی چی د ځانګړو هدفونو د سرته رسولو په منظور د افغانستان په ټولنیز تاریخ کی را منځ ته شویدي.  چی نظریات یی په ځینو برخو کی د منلو وړبریښي. د دی نظر لرونکی باور لری چی د دمو کراسی دوره یواځی یوه بهانه وه چی اعلیحضرت محمد ظاهر شاه غوښتل چی په مستقله توګه پاچاهی وکړی او د کاکاګانو او د کاکا د زامنو د قید او قرنطین نه په آزاده توګه په خپله خوښه پاچاهي وکړی، تصمیم ونیسي او عمل وکړی. پاچا ظاهر شاه د خپلی پاچاهی په څلوییښت کلني دوره کی دیرش کاله داسی تیر کړل لکه په یوه کورنی کی یو معیوب مشر چی یواځی احترام ورته کیږی او نور په هیڅ کار کی ورنه د پوښتني ضرورت نه لیدل کیږی. خو د دموکراسی له کلونونه هم دومره ستړی شو چی د سلطنت کولو نه یی هم زړه تورشو، نو د سردار داؤدخان سره یی غوړونه نژدی کړل او په مصلحتي توګه یی هغه دی ته و هڅاوه چی دا درونډ بار د ده له اوږو لری کړی. د هیواد اویا سلنه وګړی چی اکثرأ په درو او باندو کی اوسیدل دا کودتا یواځی د پخوانی حاکمیت په دننه کی د مهرو د تغیر په مفهوم و ګانه. خو نورو دیرش سلنه وګړو چی په ښارونو کی اوسیدل او لویه برخه  یی روښانفکران او د سواد خاوندان ول دا بدلون یی د شاهی رژیم خاتمه او په هیواد کی د ولسواکی پیلامه و ګڼله او د ځوان نسل د تاوده هرکلی سره مخا مخ شو. دا ډله محقیقین د دی مصلحتی کودتا د پاره لاندی د لایل وړاندی کوي:

اول: د کودتا د کیدو نه دری اونی مخکی د پاچا سفر ایتالیا ته د خپل زوم سردار عبدالولی په ګډون، د سترګو د ناروغی په پلمه او تر آخره هملته پاتی کیدل.

دویم: د یوی میاشتی نه په کمه موده کی د پاچا تسلیمی جمهوری نظام ته او د اساسی قانون خلاف چی د نظام په ساتنه کی یی قانونی مکلفیت درلود، بی له کوم اقدام حتی قانونی اعتراض پرته چی په دی و پوهیده چی داؤدخان په حالاتو مسلط دی د اسد د میاشتي په ۲۱ مه نیټه رسماً د سلطنت له مقام څخه تیرشو او داؤد خان ته یی بیعت وکه.

دریم: بی له هرډول مقاومت څخه د شاهی گارد تسلیمیدل، د سلطنت د مقام د کفیل او ولیعهد شهزاده احمدشاه خان په امر، کودتاچیانو ته. چی ډیره لږه موده وروسته د جنرال سردار ولی نه پرته ، ټوله شاهی کورنی په ایتالیا کی د مخلوع پاچا سره یوځای شوه او سردارولی له دی کبله چی له کودتا څو ورځی د مخه یی په یوه کورني محفل کی یی داؤد خان ته بی احترامي کړی وه دوه کاله د داؤد خان په قید کی پاتی شو.

څلورم: د ظاهرشاه او داؤد خان تر منځ دنیکو او حسنه تعلقاتو او خطی او ټیلفوني اړیکو ادامه د داؤدخان د ژوند تر وروستیو شیبو پوری. د ثور د اومي له کودتا وروسته د انقلاب ثور په ورځ پانه کی چی د شوروی له تجاوز وروسته د (حقیقت انقلاب ثور) په نوم ونومول شو، د یوه لیک فوتو چی د محمد ظاهر شاه په خط او کتابت لیکل شوی و او کودتاچیانو د داؤدخان د خوب دکوټی د تلاشئ په وخت کی ترلاسه کړی و، نشر ته وسپاره. په دی لیک کی ظاهرشاه داؤدخان ته داسی لیکلی وو « چون موتر شش سلندره که سفارت افغانستان در روم به اختیارم قرار داده است، کهنه و پرمصرف میباشد، خواهشمندم امر فرمائید تا بجای آن موتر جدید تر و کم مصرف تری په اختیارمن قرار داده شود» دا نشر شوی اخبار ډیر ژر بیرته د دولت له لوری څخه ټول شو چی کمونستانو(د خلق برخی) غوښتل دا وښای چی د داؤد کودتا ساختګي وه اودا جمهوریت په حقیقت کی د نادری کورنی د تسلط ادامه وه، خو په دی نه وو پوه شوی چی دا لیک داهم په ګوته کوی چی ظاهر خان په څلویښت کلنه پاچا هی کی د دی توان نه درلود چی ځان ته یو نوی موټر واخلی. نو دا ادعا چی هغه د افغانستان دارایی چور کړی وه یوه پوچه اوبی معنی خبره ده.

پنځم: د سرطان د ۲۶ کودتایی دولت د خپل ژوندانه ترآخره پوری د ظاهرشاه د شخصیت او د شاهی کورنی د پرستیژ ساتنه وکړه. د جمهوریت په لومړیو ورځو کی د پرچم د ډلی له خوا په ځینو شعارونو کی پاچا او شاهی کورنی ته څه بد رد ویل شوی ول ، خو ډیر ژر بیرته ټول او بیا د تل د پاره دی کار ته اجازه ورنکړله شوه.

شپږم: د کودتا له وقوع نه دوه اونی د مخه د شاهی د مخفي پولیسو (ضبط احوالات) د ادارې له خوا د کودتا کولو په هکله اوازې او تر لاسه شوی معلومات د سلسلی د مراتبو له مخی ان تر پاچا پوری هم ورسیدل، خو پاچا هغه جدی ونه ګڼله او هغه یی په شاهی کورنی کی د نفاق اچونکو یو بله هله ځله و بلله.

د هغو کسانو له نظره چی د سرطان د ۲۶ کود تا سره پاچآ موافق ګڼی استدلال کوی چی له همدی وجهی نه داؤد خان په پوره اطمنان په دی کار لاس پوری کړ، ځکه هغه پو هیده چی که کودتا ناکامه هم شی پاچآ به سره له دی چی د خپلی پټي موافقی نه به منکر شی خو د ده په وړاندی به د هر شدید عکس العمل نه مخنیوی وکړی. محمد حسن شرق د داؤدخان ډیر نژدی او اعتباري ملګري په خپل اثر (کرباس پوشان برهنه پا) کی د داؤد خان له قوله دی اطمنان ته داسی اشاره کوی« هرگاه کودتا ناکام شود، شاه من را نخواهد کشت، اما شمارا زنده نخواهد گذاشت»

د موضوع د ښې روښانتیا د پاره به بده نه وی چی د بی بی سی راديو د خبرنګاري مینه بکتاش سره د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د هغی مرکی یوه برخه را واخلو چی د ۲۰۰۵ کال د سپتمبر په دوهمه یی ورسره کړی وه. په دی مصاحبه کی ظاهر شاه د داؤد خان شخصیت ته د درناوی او دعا وروسته وایی: «د سرطان د ۲۶ کودتا د خبر په اوریدو سره حیران نه شوم او دلیل یی هم داو چی ما یوه سهوه وکړه. زه او داؤدخان سره ډیر خواږه وو، په یوه کورکی مو ژوند کړی وو. لږترلږه پوهیدم چی داؤدخان یو ملی عشق او احساس لری. زه ستړی شوی وم. د داؤد خان همدی صفت زه دی ته مجبور کړم چی فکر وکړم او که قرار وی چی له ما نه وروسته بل څوک راځی نو بیا داؤد خان کولی شی چی یو څه وکړي»

له دی ټولو دلایلو وروسته هغه کسان چی د سرطان د ۲۶ کودتا یو مصلحتی عمل بولی داټکی هم زیاتوی چی ظاهر شاه د دمو کراسی د دوری نه دی نتیجی ته رسیدلی و چی، د سلطنت بقا او دوام به ناممکن وی نو په دی هلو ځلو کی و چی په خونړی

بنه د شاهی نظام د تغیر مخه ونیسی او یا هم د دوه کاکا د زامنو یعنی سردار عبدالولی او سردار داؤد خان تر منځ چی دواړو ځانونه د پاچا نه وروسته ځانونه د هغه ځای ناستي ګڼل او دواړو په اردو کی پراخ لاس درلود، ټکر منځ ته را نه شی، په دی فکر کی شو چی داسی تغیر رامنځ ته کړی، چی هم له شاهی کورنی نه غیر بل چا ته قدرت لاس ته ورنه شی او هم له وینی توئیدنی نه مخنیوی وکړی .(افغانستان ـ جولانګاه افراطګرائی. ۵۴،۵۳،۵۲ مخونه)

۳ ـ دریمه ډله هغه څیړونکی او محقیقین دی چی د ثور د اومي کود تا د سرطان د ۲۶ کودتا محصول نه بلکی د دیموکراسی د لسیزی زیږنده بولي. دا ډله محقیقین په دی باوردی چی د افغانستان فرهنګی او ټولنیزو حالاتو دا نه ایجابوله چی هلته دي داسي دیموکراسي اعلان شی چی د هیواد په سلو کی ۹۵ تنه د هغی په مفهوم و نه پوهیږی او د غرض خاوندان دی د خپلو شومو غرضونو د پاره ناوړه ګټه تری او چته کړی. دا ډله د محمد ظاهر شاه په شاهی نظام باندی له دی کبله نیوکه لری چی د نیمی پیړی اوږدی مودی حکمرانی په وخت کی یی د خپل ولس د ټولنیز حالت بدلون ته نه یوائی داچی پاملرنه ونه کړه بلکی کوم وخت که د هیواد منورو او روښانفکره اشخاصو، بی له دی چی شاهی نظام ته کوم زیان ورسوی، د څه اصلاحاتو او نویوالی په لټه کی شوی او کوم عمل یی کړیدی هم د شاهی کورنی او د هغوی د پلویان له خوا په ډیری بی رحمی سره ازار شوی، په بندیخانو کی اچول شوی او حتی له منځه تللي دي.دي کل اختیاره، واجب الاحترام او غیری مسؤلو پاچا هانو بی له هغه چا څخه چی دوی ته به یی د اوږد عمر اود تل پاتی واکمنی دعا وی کولي د بل چا خبری او مشوري ته غوږ نه نیوه او د هر هسی عمل ځواب یی په توره ورکاوه چی له هغی نه به د دیمکراسی یا نسبي آزادی څه بوی محسوسیده. د محمدظاهر خان د سلطنت لومړی دوره د هغه د تره او کل اختیاره صدر اعظم محمد هاشم خان په استبدادی چلونه کی تیره شوه چی په اوږدو کی یی نه یوائی اشخاصو او افرادو دقهر او غضب ښکیری په مخ و خوړلی بلکی قومونه او قبیلی هم له کړاوونو او زجرونو نه په امن کی پاتی نه شوی. دوهم دوره یی د بل تره شاه محمود خان د صدارت دوره وه چی د ځینو فشارونو له کبله دی ته اړشو چی د ۱۹۴۹ څخه وروسته د دموکراسی لند پړاو را پیل کاندی. ده یو نسبتاً ازاد خیاله پارلمان را منځ ته کړ چی ۱۲۰ غړی یی درلودل چی تقریباً نیمایی اصلاح غوښتونکي استازي ول. دي آزاد خیاله پارلمان ځنی داسي قوانین تصویب کړل چی مطبو عاتو ته یی آجازه ورکوله، او څو د شپي چاپیدونکي اخبارونه را و وتل. دغو اخبارونو په حکومت او مذهبی خواوو زیاتي نیوکي کولي نو هماغه وو چی تر دوه کالو وروسته ټول بیرته بندشول. د همدی نسبی آزادی پر بنیاد د کابل پوهنتون محصلینو یوه اتحادیه جوړه کړه او په خپلو منځو کی یی د مباحثو او مناقشو یو هسی پرګرام جوړ کړ چی په کی به یی د حکومت په ځینو اشخاصو او ځینو نیمګړ تیاوو باندی انتقادی بحثونه کول خو دا اتحادیه هم په ۱۹۵۱ کال کی د حکومت له خوا لغوه او په فعالیت یی بندیز ولګیده. د دی ټولو آزادی غوښتونکو کړو وړو په مخکي د ویښ زلمیانو ملی غورځنګ چی په ۱۹۴۷ کال کی منځ ته راغلي و، ځای درلود. څرنګه چی د ویښ زلمیانو د غورځنګ غوښتني د شاهی دولت مشرانو ته د منلو وړ نه وي نو ځکه یی دا غورځنګ لغوه او غیر قانوني اعلان کړ. د ظاهر شاه مشا ورینو هغه ته د صدراعظم د تبدیلي مشوره ورکړه، پاچا هم ومنله او د خپل تره، شاه محمود خان پر ځای یی خپل اوښی او د کاکا زوي محمد داؤدخان د صدر اعظم په حیث وټاکه. شاه محمود خان وروسته هغو مشرانو ته چی د ده لیدو ته ورغلي ول ویلی و چی « ما خپل مرګ پیشبیني کولای سو، خوزما پرضد مي د داؤد او ظاهر له خوا دغه کودتا نه سوای پیشبیني کولای»

(ډاکتر نبي مصداق. سیاسي کمزوري او بهرنی مداخله. پښتو ژباړه ډاکټر نثار احمد صمد. ۱۷۰، ۱۷۱، او ۱۷۳ مخونه.)

د صدر اعظم په توګه د سردار داؤد خان په ټاکلو سره یو ځل بیا د نسبی دیموکراسی لمنه ور ټوله او د مطلق العنانی او کل اختیاری دوره راپیل شوه. داؤد خان له یوی خوا نور دی ته ډیره اړتیا نه درلوده چی د خپلو ترونو په څیر د حکومت د تسلط د پاره د بیلا بیلو قومونو په وهلو ټکولو کی تیر کړی، او له بلی خوایی د دی سره هم مینه درلوده چی د خپلی نیک نامی په خاطر د خپل هیواد د آبادی په لاره کی څه ګټور ګامونه پورته کړی، او په دی توګه د هیواد خلک په دی و پوهوی چی بی بندو باره او هغه آزادی چی د نیکو هدفونو د لاس ته راوړني پرځای د غلطو هدفونو د تر لاسه کولو د پاره و کاروله شي، د هغی دکتاتوری نه ډیره خطر ناکه ده چی د آبادی او انتظام سره ملګری وی. د سردار داؤد خان د صدارت دوري لس کاله وخت

ونيوه او په دی لسو کلونو کی د هیواد د خلکو د ژوندانه په ټولو برخو کی څرګند بدلونونه را منځ ته شول. دا بدلونونه د دی سبب هم شول چی د دموکراسی د رامنځ ته کیدو د پاره د هیواد د روښانفکرانو او منورینو هلي ځلي نوری هم ګړندی شی او دولتي زعامت دی ته مجبور کاندی چی یو کرت بیا هم خلکو ته آزادی ورکړی تر څو د خپل سرنوشت په ټا کلو کی خپله ونډه واخلي. د دی ډول شریطو په را منځ ته کیدو کی لکه څومره چی داخلي شرایطو رول درلود په هماغه اندازه نړیوال شرایط هم دخیل ول. څکه نوره نو دنیا هم په هاغه حالت کی نه وه چی ملتونه دی د مطلق العنانی او کل اختیاری تر سختو فشارونو لاندی ژوند وکړی. آزادی بخښونکی غورځنګونه هم نور د خپلو مبارزو په ډګرونو کی یواځی نه ول، د شوروی اتحاد تر مشر توب لاندی د سوسیالیستی بلاک حمایت له یوی خوا ، د چین د کمونست دولت هلي ځلي د مخ په انکشافو هیوادونو د راجلبولو د پاره له بلی خوا او د دی تر څنګ د اسلامی هیوادونو په منځ کی د اسلامي غورځنګونو د بدلون غوښتلو نظریات له بله اړخه چی په حقیقت کی ټول چپي او راستي افراطي حرکات وو، د دی سبب کیدل چی د افغانستان په څیر مطلق العنان دولتونه په خپلو سیاستونو کی تغیر راولي او د دمو کراسی په اعلان سره، خپلو اطباعو ته د دی موقع ورکړی چی د خپل سرنوشت په ټاکلو کی، مستقیمه ونډه واخلی او خپله ټولنه د پر مختګ په لور روانه کړي. محمد ظاهر د پاچا په صفت بیا دی ته اړ شو چی داؤد خان له صدارته لری کړی او د دموکراسی په اعلان سره، د حکومت چاری د خپلی کورنی نه بهر نورو اشخاصو ته وسپاری، په دولتی تشکیل کی بدلون را ولی او د دولت دری ګونه قواوی (اجرائیه قوه، مقننه قوهاواو قضایه) د اساسی قانون له مخی سر بیلی او هره قوه د خانګړو مسؤلیتونو او صلاحیتونو په لرلو سره په کار واچوی. د دمو کراسی په اعلان سره اساسی قانون را منځ ته شو، د سیاسی ډلو جوړیدل بی د احزابو له قانون څخه را پیل شول، خیاباني مظاهري د همدی سیاسي ډلو په لار ښونه د کنترول نه و وتلي، په دولتی ادارو کی بی بندوباري او فساد خپل نهایی حد ته ورسیده، حکومتونه یو په بل پسي په خپلو پلانونو کی نا کام شول او یوه صدراعظم هم ونه شو کولای چی د خپل حکومت دوره مکله کړی، د همسایه هیوادونو سره د ښو اړیکو نشتوالی د دی سبب شو چی د هیواد سوداګریزی چاری د ستونزو سره مخ کاندی، طبیعی آفتونو لکه وچکالي او قحطی هم د ټولنیزو ستونزو سره هم غاړه شوی او نتیجه دا شوه چی دا بی ګټی دیموکراسی بیرته له منځه یورله شی. راځی په دی برخه کی د اکاد میسن استاد اعظم سیستانی هغه استدلال چی د خپل اثر (جایگاه داؤد خان در تا ریخ افغانستان) کی لیکلی د همغه په ژبه له نظره تیر کړو.

در این اواخر، مخالفان داؤد خان وقت و انرژی زیادی را به مصرف رسانده اند تا ثابت نمایند که کودتای ۲٦ سرطان به رهبری داؤدخان، زمینه ساز کودتای ۷ ثور به رهبری حزب خلق و پرچم و بلاخره سبب کشتار مردم و ویرانی کشور شده است، اما من برعکس ایشان فکر میکنم و دههٔ دیموکراسی را زمینه ساز کودتای ۷ ثور و فجایع ۸ ثور میدانم که وطن را با مصائب و بدبختی های بی نظیر تأریخ مواجه ساخت. به نظر من، آن همه رهبران ۷ ثوری و۸ ثوری، در تکری (سبد) دهه دیموکراسی پرورش یافتند و در دههٔ بعد از دهه دیموکراسی که بهتر است آنرا دههٔ هرج و مرج و انارشیزم و ظهور احزاب چپ و راست افراطی و اوج گیری تظاهرات بی محتوای جریانات سیاسی نامید، رشد یافتند و پر و بال کشیدند و برای کسب قدرت سیاسی، کشور را به میدان بزکشی خود مبدل ساختند و در ویرانی وطن و کشتار هموطنان خود از همدیگرسبقت جستند و برخی از سوی حمایت گران خارجی خود عنوان قهرمان ملی گرفتند به عبارت دیگر، با توشیح قانون اساسی ۱۹٦٤از جانب پادشاه افغانستان، ماشین دیموکراسی به حرکت افتاد و تا یک دهه لق لق کنان براهش ادامه داد ،به همین خاطر این دهه را دهه دیموکراسی نام داده اند. مضمون اصلی این دهه دیموکراسی ظهور احزاب چپ و راست افراطی در فضای فقدان قانون احزاب، راه اندازی تظاهرات محصلین و محصلین پوهنتون ها و شاگردان لیسه های مرکز و ولایات کشور و سخنرانی های آتشین برضد رژیم سلطنت بود و شعار همگی نابودی رژیم سلطنتی در افغانستان بود. پخش وتوزیع کتب وآثار کسانی چون: مارکس و انگلس و لنین و مائو و لیوشاوچی وآثار حزب توده ایران وغیره وآثار نویسندگان اسمی چون: سید قطب وحسن البنا ومولانا مودودی وغیره درمیان جوانان رونق ورواج زیاد پیدا کرد که درهیچ وقت و زمان دیگری در افغانستان تا آن حد رونق نداشت. میتوان گفت .تمام سیاست مداران و دولتمردان افغانستان که در سه دههٔ اخیر، افغانستان را بخاک وخون نشاندند، محصول همان

دهۀ دیموکراسی میباشند. اشخاص وعناصری که در آن دیموکراسی خود را به عنوان رهبر و پیشوای احزاب سیاسی مطرح کرده بودند، سرانجام برای کسب قدرت و یا انحصار قدرت، دست به سلاح بردند و جفاها و ناروائی ها و خیانت های نابخشودنی در حق مادر وطن کردند. در دهۀ دیموکراسی ما جامعه یی بودیم دارای ۸۰ تا ۸۵% مردم بیسواد، با رسوم و آداب و عادات و خصوصیت های قرون وسطائی، و هنوز هم که در قرن بیست و یکم زندگی میکنیم، اکثریت مردم یعنی از ۷۰ تا ۷۵ در صد شان، در بیسوادی و جهل و نادانی و فقر و مرض و بیکاری واعتیاد به مواد مخدر بسر می برند وحتی با سوادان آن توان درک معنی دیموکراسی را ندارند. در یک جامعه اکثرا بیسواد، عنعنه پرست سنتی و چشم بدهن روحانیت بنیادگرا، تحقق دیموکراسی تقریبا ناممکن مینماید. آری بی سوادی و و نفهمی وفقر وبیکاری درد بزرگ جامعه ماست که نمیگذارد مردم از پوسته عنعنه پرستی، قوم گرائی و تعصبات مذهبی، سمتی و اتنیکی بدر آیند. مسئول این همه بیسوادی و نادانی همراه با فقر و محرومیت هاوبی عدالتی ها در واقع همانا نظام حاکم برکشور بوده است. بیرون کردن مردم از این بدبختیبی، کار یک روز و دو روز ویک سال و دو سال نیست ، یک پروسه طولانی تا مرز نابود کردن بیسوادی وفقر از کشور وقت مي خواهد تا نسل های جدیدی تربیت و با سواد و با فرهنگ و با احساس ملی ببار آیند. ظاهرشاه اگر واقعاً میخواست په خواست زمان پاسخ دهد و دیموکراسی را در جامعه پیاده و نهادینه سازد قبل از دیموکراسی می باید فرزندان این کشور را از نعمت سواد بهره ور میساخت ......تا میزان با سوادان را درکشور به بیش از ۵۰ ٪ بالا مبرد.

د دی استدلال نه داسی سړی پوهیږی چی که ظاهرشاه د دیموکراسی د اعلام کیدو نه د مخه د هیواد د خلکود تعلیمی سطحی لوړولو او باسواده کولوته توجه کړی وای نو هر لډر به د لیډرۍ قابلیت نه وایی تر لاسه کړی، که په یوه داسی ټولنه کی چی هلته د پوهی او تعلیم سطحه لوړه وی او سیاسی ګوندونه پکی جوړ شی نو کوم تغیرات چی دا ګوندونه یی د خپلی ټولنی د آبادۍ او لوړتیا د پاره د را منځ ته کولو د پاره هلي ځلي کوی، هسی تغیرات به وی چی د ټولني د بربادی سبب جوړ نه شی. دا تر ډیره حده یو منطقی او پرځای استدلال بللی شی، خو د افغانستان په ځیر په یوه غریب، ناتوانه او تل دنورو مرستو او لاس نیوی ته اړ هیواد به څنګه و کولای شی چی د لویو قدرتونو او د دی قدرتونو په لاړو لانده او نسبتاً د زورآورو ګاونډیانو له مداخلو او لاس وهنو نه ځان وژغورلی شي؟ نو که چیری دا پرله پسی کودتا ګاني د داؤد خان په شمول د همدی لیډرانو په قوت سره سرته رسیدلی وی او په ټولو کی د وخت د شوروی اتحاد، د ګاونډیو هیوادونو او د امریکا په مشرۍ د پانګه والی دنیا لاس نه وی نو بیا د استاد سیستانی صاحب استدلال بلکل سم بریښي او که چیری په ایران کی د آخوندانو قدرت ته رسیدل، په پاکستان کی په پرله پسی د جنرالانو له خوا د کودتا ګانو تر سره کیدل په عراق ، سوریه، لیبیا، مصر او نورو لویو اسلامی ټولنو او هیوادونو کی د رژیمونو تغیر او تبدیل د سترو انسانی او مادی تاوانونو سره یوځای د همدی سترو طاقتونو او زبرځواکونو له خوا په لاره اچول شوی لوبي وی، نو بیا د ټولنی د سواد او بیسوادۍ سوال نه پیدا کیږی بلکی هره کودتا لکه د مور په ځیرپه خپل نس کی بله کودتا روزی او یوه ورځ یی لکه د لور په ځیر دنیا ته راوړی.

د دی ځیرنی په پایله کی، زه د ځیرني د یوه شاګرد په صفت په دی باوریم چی: د نړی ټولی رواني معضلی د دی دنیا د یو څو قوی هیوادونو او برلاسو ملکونو د کاری پلان یوه هسی برخه ده چی هیڅکله توقف نه مومی، ترڅو چی د پانګه والو هیوادونو د پانګی اچونی له لاری د هغی د زیاتوالی د پاره هلی ځلي روانی وی تر هغی زمونږ په نړۍ کی سوله نه شی تامینیدلی، هم به سیاسی کودتاوی دوام ولری، هم به نظامي کودتاوی تر سره کیږی او هم به په وروسته پاتی هیوادونو کی د انسانانو مرګ ژوبله د نورو ژوندیو په نسبت اسانه او ارزانه وی. یوائځی هغه ملکونه له دی طوفانونو نه په نسبی توګه په امان کی پاتی کیدلی شی چی زعامتونه یی د نورو د قوت پرځای د خپلو ملتونو په قوت او طاقت باندی اتکا ولری او د نورو سره د معضلو په را پیدا کیدو کی نه بلکی د هغوی په اواریدو کی زیار وکاږی.

پای

د اپریل ۲۶/ ۲۰۱۶